# په حنفي فقه کې له کفارو څخه د مرستې اخيستلو حکم!

ليکنه: عثمان بدر

ژباړه: انجنير احمد احرار



امام محمد رحمة الله عليه چې د امام ابو حنيفه رحمة الله عليه شاګرد او ملګری او د حنفي فقهې لوی مجتهد و، له کفارو څخه د مرستې په اړه داسې وايي: (**ولا بأس بأن يستعين المسلمون بأهل الشرك على أهل الشرك إذا كان حكم الإسلام هو الظاهر عليهم. السيار الكبير ۴:۱۹۱) يعنې که مسلمانان د کفارو پر وړاندې له نورو کفارو څخه چې حاکميت د مسلمانانو وي، مرسته واخلي کومه ستونزه نشته.**

دا په حنفي مذهب کې يوه معتبره خبره ده. امام محمد رحمة الله عليه په څرګنده توګه بيانوي چې په جګړه کې له کفارو څخه مسلمانان هغه وخت مرسته اخيستلی شي چې کله مسلمانان په دوی باندې واکمني کوي. نوموړی وايي چې له کفارو څخه د مرستې اخيستنې لازمي شرط دا دی چې حاکميت د اسلام وي. د دې شرط په موجوديت سره مسلمانان کولی شي چې له کفارو څخه د نورو کفارو پر وړاندې مرسته واخلي. مګر که حاکميت د اسلام نه و لکه اوس او د دې برخلاف کافران حاکميت کوي، نو بيا جواز نه لري.

په دې اړه دوه ټکي اړين دي چې بايد ياد شي او هغه دا چې:

لومړی: د اسلام حاکميت په اسلامي دار پورې اړه لري او هغه داسې ځای يا سيمه ده چې هلته اسلامي شريعت حاکميت کوي او د هغه سيمې امنيت او واکمني هم د مسلمانانو په لاس کې وي.

دويم: مسلمانان له هغو کفارو د مرستې غوښتنه وکړي چې دوی په دار الاسلام کې ژوند کوي او يا دوی د دې غوښتنه وکړي چې موږ ستاسو په صفونو کې جګړه کوو لکه اهل ذمه. يعنې مرسته کېدی شي د دواړو لوريو له لوري مطرح شي يعنې يا مسلمانان له کفارو مرسته وغواړي او يا هم کفار د دې غوښتنه وکړي چې له مسلمانانو سره مرسته وکړي. دلته په دواړو حالتونو کې يعنې که مسلمانان له دوی غوښتنه وکړي يا دوی له مسلمانانو غوښتنه وکړي، دوی کولی شي چې د اسلامي پوځ تر رهبرۍ او بيرغ لاندې د نورو کفارو پر وړاندې جګړه وکړي.

امام محمد د يوې پوښتنې په اړه چې د ځينو کسانو ترمنځ مطرح شوې وه ځواب ورکړ او هغه پوښتنه داسې وه چې ويل کېدل چې کله زبير رضی الله تعالی عنه حبشې ته کډوال شو، نو د نجاشي په ملاتړ يې د يوه بل سړي سره چې د نجاشي پر وړاندې يې جګړه کوله، نو په دې دليل د مسلمانانو لپاره جواز لري چې د کافرانو په پوځونو کې د دوی تر حاکميت لاندې هم جګړه وکړي. امام محمد د دې پوښتنې په ځواب کې وويل چې د دې روايت دقيق تعبير او تفسير داسې دی چې يا خو په هغه وخت کې نجاشي مسلمان و او يا هم مسلمانانو په دې وخت کې بل انتخاب نه درلود لکه څنګه چې ځينې راويان په دې اړه همداسې وايي، نوموړی زياتوي: **هذا الحديث يستدل من يجوز قتال المسلمين مع المشركين تحت رايتهم، ولكن تأويل هذا من وجهين عندنا: أحدهما: أن النجاشي كان مسلما يومئذ، كما روي، فلهذا استحل الزبير القتال معه. والثاني: أنه لم يكن للمسلمين يومئذ ملجأ غيره.** يعنې دا روايت په دې دلالت کوي چې د مسلمانانو لپاره جواز لري چې د کافرانو تر حاکميت لاندې د دوی په پوځونو کې د نورو کافرانو پر وړاندې جګړه وکړي مګر دا روايت د موږ لپاره دوې برخې لري: لوموړی دا چې نجاشي په هغه وخت کې مسلمان و لکه څنګه چې په دې اړه ځينې روايتونه هم شته دي نو له همدې امله زبير رضی الله عنه د ده لپاره جګړې کړې ده او دويم دا چې مسلمانانو په هغه وخت کې پرته له نجاشي بل بديل نه درلود. نو له همدې امله دا يو مستثنا حالت دی، نه عام حالت.

د حنفي مذهب معتبر عالم شمس الائمه ابو بکر محمد بن ابی سهل السرخسی په السيار الکبير کې د پورته روايت په اړه د حنفي مذهب د نظر په اړه په خپله شرحه کې ځيني ثبتونه او شواهد راوړي دي. نوموړی وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم له بني قينقاع له يهودو څخه د بنی قريضة پر وړاندې له دوی مرسته وغوښته او رسول الله صلی الله د طايف او حنين په پېښو کې ځينو کفارو ته اجازه ورکړه چې د مسلمانانو په پوځ کې جګړه وکړي. نوموړی وايي چې دا ډول يوه کړنه يو ګټور کار و چې کافران د وسايلو غوندې د نورو کافرانو پر وړاندې د مسلمانانو لپاره جنګېدل او دا کار د مسلمانانو په ګټه و. مګر په ورته وخت کې نوموړی بيا وايي چې په يوه بله پېښه کې رسول الله صلی الله عليه وسلم د کفارو مرسته رد کړه چې د دوی په صفونو کې جګړه وکړي او هغه دا چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د عبدالله ابن ابی ګډون د احد په جګړه کې ونه مانه ځکه هغه راغلی و چې د احد په جګړه کې د مسلمانانو په پوځونو کې ګډون وکړي.

رسول الله صلی الله عليه وسلم امر وکړ چې نوموړي ته ووايي چې بېرته وګرځي او داسې يې وويل: **(إنا لا نستعين بمن ليس على ديننا) موږ له هغه چا مرسته نه اخلو چې هغه زموږ له دين څخه نه دي يعنې کافران دي.) امام سرخسي په دې اړه وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د اهل منعة يا هغې ډلې ته چې ځانګړی ځواک لري د رد ځواب ورکړ او له دې ډول حالت څخه رسول الله صلی الله بيزاره و، ځکه دوی په بېل صف کې جګړه کوله او د دې احتمال موجود و که مسلمانان د کفارو پر وړاندې په جګړه کې کمزوري شي، نو شونې ده چې دوی په مسلمانانو بريد وکړي. کله چې کفار غواړي د مسلمانانو په ګټه په بېل صف، تر بېل بيرغ او تر خپلې رهبرۍ لاندې جګړه وکړي، دا بيا پرته له شکه حرامه مرسته ده. شرح السيار الکبير 3-4.191)**

همدارنګه امام سرخسي په خپل يوه بل فقهي معتبر کتاب المبسوط (23-10) کې هم په دې اړه بحث کړی دی. نوموړي له هغو پېښو يادونه کړې ده چې رسول الله صلی الله وسلم کافرانو ته په خپل صف کې د جګړې کولو اجازه ورکړې ده او په ځينو نورو پېښو کې يې د جګړې کولو اجازه نه ده ورکړې. نوموړی وايي چې اصلي خبره د کافرانو د ځواک ده او همدارنګه دا چې ايا دوی د مسلمانانو تر رهبرۍ لاندې د مسلمانانو په پوځونو کې جګړه کوي او که تر خپلې رهبرۍ لاندې په بېل صف کې جګړه کوي.

که دوی د مسلمانانو تر رهبرۍ لاندې د مسلمانانو په صف کې جګړه کوله، نو مسلمانانو ته جواز لري چې مرسته یې واخلي او که دوی تر بېل بیرغ او تر خپلې رهبرۍ لاندې د مسلمانانو لپاره جګړه کوله، نو دا مرسته بیا مسلمانانو ته حرامه ده، ځکه دا د مسلمانانو لپاره یو لوی ګواښ کېدی شي. امام سرخسي هغه حدیث په دې اړه رانقلوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د احد په جګړه کې د عبدالله ابن ابی مرسته ونه منله. نو پورته حکم په لاندې ډول خلاصه کېدی شي: **تأويله أنهم كانوا متعززين في أنفسهم لا يقاتلون تحت راية المسلمين، وعندنا إنما يستعين بهم إذا كانوا يقاتلون تحت راية المسلمين، فأما إذا انفردوا براية أنفسهم فلا يستعان بهم، وهو تأويل ما روي عن النبي صلى الله عليه وسلم أنه قال: لا تستضيئوا بنار المشركين، وقال صلى الله عليه وسلم: أنا بريء من كل مسلم مع مشرك «يعني: إذا كان المسلم تحت راية المشركين .)** یعنې د دې کره معنا دا ده چې مرسته کوونکي کافران خپله ځواکمن وو او دوی د مسلمانانو تر بیرغ لاندې جګړه نه کوله نو له هغو کافرانو چې دوی تر خپل بیرغ لاندې غوارې د مسلمانانو لپاره جګړه وکړي، مرسته اخیستل یې جایز نه دي او دا د رسول الله صلی الله علیه وسلم د حدیث معنا ده چې وایي د کافرانو له اور څخه د روښنایي مرسته مه غواړئ او همدارنګه وایي چې زه له هغه مسلمان څخه بیزاره یم چې له مشرک سره وي یعنې چې کله مسلمان د کافر تر بیرغ لاندې جګړه کوي.

نو موږ ته له کافرانو د مرستې اخیستل هغه وخت جواز لري چې کله دوی د مسلمانانو تر رهبرۍ او د مسلمانانو تر بیرغ لاندې [د نورو کافرانو پر وړاندې] جګړه کوله. مګر که دوی تر خپلې رهبرۍ او خپل بیرغ لاندې [د نورو کفارو پر وړاندې] جګړه کوله، نو بیا موږ له دوی څخه دا ډول مرسته نه شو اخیستلی دی. همدارنګه دې : (**لا تستضيئوا بنار المشركين) او : (أنا بريء من كل مسلم مع مشرك) سم مفهوم دا دی چې مسلمانانو ته جواز نه لري چې د کافرانو په صفونو کې او د دوی تر بیرغونو لاندې جګړه وکړي.**

په حنفي فقه کې دا بنسټیزه پرېکړه ده او ځینو نورو سلفو او خلفو علماوو هم په دې اړه خپل نظرونه څرګند کړي دي. د بېلګې په توګه امام ابوبکر الجصاص په خپل تفسیر احکام القران کې داسې وایي: **(وقال أصحابنا: لا بأس بالاستعانة بالمشركين على قتال غيرهم من المشركين إذا كانوا متى ظهروا كان حكم الإسلام هو الظاهر، فأما إذا كانوا لو ظهروا كان حكم الشرك هو الغالب فلا ينبغي للمسلمين أن يقاتلوا معهم.)** یعنې زموږ [د حنفي فقهې] ملګرو ویلي دي چې د اسلام د حاکمیت په صورت کې مسلمانان کولی شي د کفارو پر وړاندې د نورو کفارو مرسته واخلي، مګر که حاکمیت د کافرانو و، نو بیا مسلمانانو ته جواز نه لري چې د دوی په صفونو کې جګړه وکړي. همدارنګه علاو الدین اکاساني په خپل کتاب بدایع الصنایع که داسې وایي: **(ولا ينبغي للمسلمين أن يستعينوا بالكفار على قتال الكفار؛ لأنه لا يؤمن غدرهم، إذ العداوة الدينية تحملهم عليه، إلا إذا اضطروا إليهم.)** یعنې مسلمانانو ته نه ښایي چې له کفارو څخه د نورو کفارو پر وړاندې په جګړه کې مرسته وغواړي، ځکه کېدی شي دوی له مسلمانانو سره خیانت وکړي او کېدی شي په دوی باندې یې دیني دښمني زوروره شي او له مسلمانانو سره خیانت وکړي.

موږ د حنفي فقهې له پورته نظریاتو او دلایلو څخه دې پایلې ته رسېږو چې دوی له دې څخه اندېښنه لرله چې داسې نه شي چې په دې مرستو سره مسلمانان د کافرانو تر اغېز لاندې راشي او یا هم کېدی شي د کفارو د موخو لپاره وکارول شي او یا هم کېدی شي په دې سره د کفارو ګټې خوندي شي. نو دوی تل د کفارو د مرستې په اړه دا قید او شرط ایښی دی چې په هغه حالت کې مسلمانان له کفارو څخه مرسته اخیستلی شي چې کله حاکمیت د اسلام وي او کافران د مسلمانانو تر بیرغ او رهبرۍ لاندې

وي. چې په دې حالت کې دوی د موږ لپاره خدمت کوي او د ویرې کوم څه نشته. مګر که داسې نه وي، نو بیا به موږ په اصل کې د دوی لپاره خدمت کړی وي او د مسلمانانو وینې به مو د دوی د موخو او ګټو لپاره توییې کړې وي.

همدارنګه دا موضوع په حنفي فقهه کې په بله بڼه هم بیان شوې ده او هغه دا چې مسلمانان کولی شي چې له کفارو څخه د مسلمانو یاغیانو د ځپلو لپاره مرسته واخلي. ابن الهمام په فتح القدیر کې وایي چې اهل العدل (هغه کسان چې د شریعت پر بنسټ پرېکړه کوي) کولی شي چې د اهل ذمه د مسلمان یاغیانو پر وړاندې وجنګوي مګر شرط به دا وي چې دا جګړه به په دار السلام کې وي. مګر که جګړه دار الکفر ته لاړه یا هملته وه، نو بیا د هېڅ کافر مرسته نه شي تر لاسه کولی.

نو له پورته بحث څخه دې پایلې ته رسېږو چې په دې اړه ډېری حدیثونه راغلي دي او په دې دلالت کوي چې په جګړه کې یې له کافرانو څخه مرسته اخیستل جواز نه لري له دې جملې څخه یو حدیث چې هم احمد او هم نسایي روایت کړی دا دی: (**لاَ تَسْتَضِيئُوا بِنَارِ الْمُشْرِكِينَ) یعنې د مشرکینو په اور باندې هم خپلې رڼاوې مه بلوئ. مګر په بل حدیث کې رسول الله صلی الله علیه وسلم له کافرانو څخه مرسته اخیستې ده او دوی ته یې اجازه ورکړې چې د مسلمانانو په صفونو کې د نورو کافرانو پر وړاندې جګړه وکړي. له کفارو څخه مرسته اخیستل په ځینو شرطونو باندې مقید دي او په حنفي فقه کې دا شرط او قید دا دی چې حاکمیت باید د اسلام وي او کافران به د مسلمانانو تر واکمنۍ او رهبرۍ او بیرغ لاندې د مسلمانانو په صفونو کې جګړه کوي مګر که په هر ډول دوی د خپل ځان لپاره او بېله جګړه کوله او یا مسلمانانو د دوی په صفونو کې د دوی د موخو لپاره جګړه کوله، نو دا جګړه او مرسته بیا ناروا او حرامه ده.**

**سرچینه:** [د خلافت مجله، ۲۲مه ګڼه]